بسم الله الرحمن الرحیم

**خبر او تبصره**

**د ازبکستان طاغوت په حجره کې د ماشومانو د زده‌کړې مخه نیسي!**



**خبر**

د اگسټ په ۱۲مه د «Uzbekistan 24» ټلويزيوني چينل کې د «تياره په حجره کې» په نوم فلم وښودل شو. ياد فلم په حجره کې د زده‌کړې لړۍ منفي انځوروي. په دغه فلم کې دا هم راځي چې په ازبکستان کې د ۲۰۱۸ کال په لومړۍ نيمايي کې ۱۱٦ غير قانوني حجرې له منځه وړل شوې. په ازبکستان کې په ۲۰۱۷ کې دغه نا قانونه ښوونځي (حجرې) ۳۳ ته رسېدلې.

**تبصره**

نن ورځ حجره په مرکزي اسيا، په ځانگړې توگه په ازبکستان کې د ماشومانو لپاره د اسلامي زده‌کړو يوه لاره ده. پلار او مور خپل ماشومان د امام کور ته لېږي، چې هلته له نورو ماشومانو سره يو ځای زده‌کړه وکړي، په دې موده کې دوی د امام په کور کې وي او د زده‌کړو په بهير کې خپل کور ته نه راځي. د زده‌کړې دا لاره له پېړيو راهيسې په دغو سيمو کې دود ده.

پخوا يې يو څه توپير درلود. په دوديز ډول په ازبکي معمارۍ کې، حجره يوه کوچنۍ کوټه ده، چې يو يا څو زده‌کوونکي پکې وي. پر عمومي مطالعې سربېره، له تدريس څخه د ډېرې ښې پايلې او د زده‌کوونکو د علمي سطحې د لوړولو لپاره، هر زده‌کوونکي ته کورنۍ دنده ورکول کېږي. د همدې لپاره دوی په داسې کوټو کې وي او ډېر زيار باسي.

د امير تيمور د واکمنۍ په دوره کې د خلکو د زده‌کړې د کچې لوړولو او د ساينس د پرمختگ لپاره ډېر کار وشو. په ځانگړې توگه، د پنځلسمې پېړۍ په لومړيو کې په سمرقند، بخارا او نورو سيمو کې مدرسې جوړې شوې. هغه وخت د ميرزا اولوغ بېک په مدرسه کې چې په سمرقند کې وه ۵۵ حجرې وې.

وروسته له هغې چې مرکزي اسيا د بې دينه کمونيستي رژيم لخوا ونيول شوه، په پوهنيز سيستم کې ژور بدلونونه راغلل. مدرسه او ژوند سره بېل شول او کنټرول يې د هغه وخت بې دينه قدرت په لاس کې واخيست. کافرو استعمارگرو په دغو سيمو کې د اسلامي زده‌کړو او اسلام ته د دعوت مخه ونيوله. حجره په داسې ځای بدله شوه چې مسلمانو ماشومانو به د خپل دين په باب په پټه زده‌کړې پکې کولې. مسلمانانو خپل ماشومانو حجرو ته لېږل چې په دوو کلونو کې قران له زړه زده کړي، پر فقه ځان وپوهوي او په سمه توگه عربي او فارسي ژبې زده کړي. دا لړۍ تر ننه دوام لري.

د کمونیست رژیم لخوا د امامانو او په حجرو کې د ښوونکو ځورونه زیاته شوه، په مرگ گواښېدل، خو بیا یې هم د مسلمانانو بچیانو ته اسلامي زده‌کړې ورکولې. د شوروي اتحاد له نړېدو وروسته، وضعیت لږ ښه شو؛ خو چې ظالم رهبر، اسلام کریموف واک ته ورسېد، په حجرو کې د امامانو څارنه او ځورونه بیا پیل شوه. په ازبکستان او سیمه کې د اسلام د خپرېدو پر وړاندې د ازبکستان د اوسني ولسمشر، شوکت میرزیایوف پالیسي د مبارزې یوه نوي پړاو ته رسېدلې. شوکت میرزیایوف د هېواد یوه مهمه برخه چې د مسلمانانو د امامانو حجري دي او د دوی بچیان زده کړې پکې کوي، ورانوي.

د ازبکستان سیکولر طاغوت په ښوونځیو کې د اسلام د تدریس مخه نیسي. نو مسلمان ماشومان نشي کولای د خپل دین اساسات په ښوونځي او حتا حجره کې زده کړي. حتا د طبعي علومو لپاره هم دا ظالم نظام قصدا خنډونه جوړوي. دا هېواد په فساد کې غرق دی. نن که غواړي د هېواد په کوم پوهنتون کې شامل شې، باید رشوت ورکړې. د زده‌کړې د دوام لپاره، باید پیسې ادا کړې. دا خو لا څه چې له پوهنتونه د فارېغېدو ډیپلوم به هم په رشوت اخلې. یوازې د شتمنو بچي زده‌کړه کولای شي، نه بېوزلان.

دا طاغوت داسې یو حالت جوړوي چې ځوانان نالوستي او وروسته پاتې وي، ځکه چې پر ړندو او ناپوهه خلکو باندې حکومت کول تر لوستو او پرمختللو خلکو اسانه دی. په دې توگه، تیاره فکره ځوان په خپل دین او عملي علومو کې وروسته پاتې او بدبخته وي. په ځوانانو کې بېکاري او شهوت پرستي زیاته شوې چې په پایله کې یې د ناخوښۍ او نا رضایتۍ له وجې د ځانوژنې خوا ته تمایل هم زیات شوی. داسې ځوانان ټولنې ته مخ پر وړاندې حرکت نه شي ورکولی، متعهد کېدای نشي او مجبورېږي چې د ظالمو حکامو غلامان وي.
د خلکو د دغه مخ پر انحطاط حالت یوازینۍ حللاره، د دغه دیکتاتور رژیم جرړې ایستل، د ټول سیستم راډیکال تغیر، پر ځای یې اسلامي نظام او د قران او سنتو پر اساس اسلامي روښانفکرۍ راوستل دي. حزب التحریر د نبوت د منهج مطابق کار کوي او الله سبحانه و تعالی په مرسته به په نیږدې راتلونکي کې دغه شریر حکام د خپلو جنایاتو سزا ووینې. الله سبحانه وتعالی په خپل سپېڅلي کتاب کې فرمايي:

**﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ﴾**

[ابراهیم: ۴۲]

**ژباړه:** *داسې گومان مه کوه چې الله د ظالمانو له کړنو خبر نه دی [بلکې خبر دی] له شکه پرته چې د دوی عذاب هغې ورځې ته ځنډوي چې په هغه ورځ به یې سترگې رډې ولاړې وي.*

**د حزب تحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته د حزب تحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر غړي الیدر خامزین لیکنه**